# د هغو نويو راغلو کورنيو حقونه چې د ماشومانو د هوساينې له اداره سره کار کوي

## د والدينو او پالونکو حقونه

که د ماشوم د هوساينې اداره په کار کې شامله شي، کورنۍ **حقونه لري.** دا حقونه ستاسو د کورنۍ د ساتنې لپاره دي او دا ډاډ ورکوي چې له تاسو سره عادلانه چلند وشي.

تاسو دا حقونه لرئ:

- **د ژبې مرسته ترلاسه کول:** تاسو حق لرئ چې که اړتيا ولرئ، ترجمان او ژباړل شوي معلومات ترلاسه کړئ.
- **په درناوي سره ورسره سلوک کېدل:** ستاسو د کلتور، عقيدې او د کورنۍ دودونو درناوی بايد وشي.
- **پوه شئ چې څه روان دي:** تاسو کولی شئ پوښتنې وکړئ او د هر څه په اړه په ساده او صفا ژبه معلومات وغواړئ.
- **په انديښنو ځان پوهول:** تاسو دا حق لرئ چې پوه شئ ولې د ماشومانو د هوساينې اداره ستاسو په کورنۍ کې لاسوهنه کوي.
- **که چېرې خوندي وي، خپل ماشومان په کور کې ساتل:** د ماشومانو د هوساينې ادارې هدف د کورنيو ملاتړ کول دي، نه د هغوی جلا کول.
- **په فيصلو کې برخه اخيستل:** تاسو کولی شئ خپله کيسه شريکه کړئ او د خپلې کورنۍ لپاره په پلان جوړولو کې برخه واخلئ.
- **په محکمه کې د وکيل يا قانوني مرستې ترلاسه کول:** که چېرې محکمه شامله وي، تاسو د قانوني استازولۍ حق لرئ.
- **خپل معلومات پټ ساتل:** ستاسو معلومات بايد محرم وساتل شي او ستاسو له اجازې پرته بايد د کډوالۍ ادارې يا نورو سازمانونو سره شريک نشي.



## د ماشومانو او ځوانانو حقونه

کله چې د ماشوم د هوساينې اداره په کار کې شامله وي، **ماشومان او ځوانان هم حقونه لري**. ماشومان او ځوانان دا حق لري:

- **خوندي اوسېدل**
- ستاسو اړتياوې، غوښتنې او خوښې بايد واورېدل شي او په پرېکړو کې شاملې کړای شي.
- خپله سيمه کې د خپلو ضرورتونو مطابق خدمتونه ترلاسه کول
- **تعليم** او **روغتيايي خدمتونو** ته لاسرسی لرل.
- د **درناوي وړ چلند** ترلاسه کول.
- خپل **کلتور**، **ژبه** او **دودونه** پالل.
- تر څو چې ممکنه وي، د مور او پلار، خويندو وروڼو او خپلوانو سره **په اړيکه کې پاتې کېدل.**
- **قانوني استازولي** او وکالت لرل.
- خپله **معلومات پټ** ساتل

refugee-youth.org

The production of this material was supported by Grant #90RB0054 from the Administration for Children and Families (ACF). Its contents are solely the responsibility of the U.S. Committee for Refugees and Immigrants (USCRI) and do not necessarily represent the official views of ACF.

U.S. COMMITTEE FOR REFUGEES AND IMMIGRANTS